## *دنوي دولت د «مشروعیت» ستونزی ته په پاملرنی سره،*

# دټایم اونیزه ولیکل: واشینګټن په افغانستان کې دطالبانو دبیا رامنځته کیدو په لټه کې دی !

دانټرنیټ دفارسی سرچینو څخه
ژباړونکی عزیزاحمد خوارمل



*ټایم امریکایی خپرونی د (۲۰۰۹) زیږدیز کال داګست دمیاشتی پر(۲۴مه) څلرویشتمه نیټه باندی ولیکل: واشینګټن په افغانستان کې دطالبانو دبیا رامنځته کیدو په لټه کې دی اوپه پاملرنی سره دنوي دولت «مشروعیت» تریونښتنی لاندی تللی،ددرغلیورامنځته کیدل اودتیروتنوپیښبی اوخبری ،دطالبانودبیرته راتګ امکان يې رامنځته کړی.*

دامریکا چاپ دټایم اونیزه خپر ونه په اشاری سره دافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنوپرراوروستوشرایطوباندی ولیکل: په واقعیت اورښتني ډول سره دغه ټول ټاکنې نه سي کولای چې دافغانستان دراتلونکی دولت مشروعیت په پوره توګه سره تامین کړی ،اودا به یوازی و واشینګټن ته ستونزی رامنځته نکړی بلکی پرځای اوپروخت به وی ترڅو یو بی واکه دولت په افغانستان کې حاکم سي اودغه بی واکه دولت به په همدی ډول سره په افغانستان کې دطالبانو دبیرته راتګ سبب وګرځي اودا هغه شرایط دی چې امریکاییان دهغه د تحقق څخه پلوی کوي .

دټایم اونیزه خپرونه په دی رپوټ کې تر دی سرلیک لاندی ((څنګه به ممکنه وی چې دافغانستان دټول ټاکنوپایله وامریکا ته مرسته وکړی ؟)) ولیکل : دافغانستان دولت دمشروعیت په نه لرلوسره ، په نهایت کې دامریکا په ګټه به وي ځکه ډېره موده مخکې د سپینی ماڼی دچارواکو پام ودی مسلی ته را اوښتی دی ،چې دافغانستان سیاسي سیستم په

یو داهسی ډول جوړښت سره دی چې دطالبانو وبیرته راتګ ته اجازه نه ورکوي او په پایله کې په افغانستان کې دغه بی واکه دولت چې مشروعیت نه لري هرومرو دی ویجاړسي او ورپسی دی یوبل نوی دولت جوړ سي.

ټایم همدارنګه دافغانستان دجمهوری ریاست دټول ټاکنو ددوونوماندودهیلواودعاوپه اړه ولیکل : داهسی ښکاری چې دټول ټاکنوپایلی څو ورځې نور هم په برکې ونیسی اما په پوره توګه سره مشخص دی که هرڅوک وکولای سي چې په دی ټول ټاکنوکې بریالی سي بیا به هم دمشروعیت دسونزی سره به مخامخ وي.

ددی امریکایې اونیزی دلیکلوپربنسټ ، دافغانستان اوسنی جمهور ریس حامد کرزی اودهغه اصلی سیال عبدالله عبدالله ،دواړودجمعی په ورځ اعلان وکړچې په لمړی پړاوکې یې دوټونو ډېره برخه غوټ(اکثریت ) یې ترلاسه کړی دي .

ټایم زیاتوي : عبداله په ټول ټاکنوکې دکرزی پلویان یې په درغلیواولاسوهنوباندی تورن کړ اوداهغه ایډیا وه چې حتی دټول ټاکنودورځي دپیل کیدوڅخه مخکې هم شته والی یې درلود /.

اخیځ دقطره نیوز څخه